# اسلامي برخه

---

# څلويښت (۴۰) لنډ حديثونه




ليکوونکی: محمد يونس زيرک

کال:.......................................................... ۱۴۰۳

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

ketabton.com - The Digital Library

## حديث (۱)

إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ. (بخارى و مسلم)

د عملو قبليدل د نيت سره تعلق لري.

## حديث (۲)

اَلدِّيْنُ اَلنَّصِيْحَةُ. (مسلم)

دين د خير غوښتني نوم دی.

ketabton.com - The Digital Library

## حدیث (۳)

اَمْلِکْ لِسَانَکَ. (ترمذی)

خپله ژبه وساته.

## حدیث (۴)

مَنْ صَمَتَ نَجَا. (ترمذی)

څوک چې پټه خوله شو، هغه خلاص شو.

ketabton.com - The Digital Library

## حدیث (٥)

اِذَا غَضِبَ اَحَدُكُمْ فَلْيَسْكُتْ. (طبراني)

له تاسې څخه چې هر څوک په غوسه شو، باید چې پټه خوله شي.

## حدیث (٦)

مَنْ غَشَّ فَلَيْسَ مِنَّا (مسلم)

هر چا چې فریب وکړ، هغه له مونږ څخه نه دی.

ketabton.com - The Digital Library

## حدیث (۷)

اَلْحَیَاءُ شُعْبَةٌ مِنَ الاْیْمَانِ (بخاری و مسلم)

حیا د ایمان یوه شعبه ده.

## حدیث (۸)

اَلْغَیْبَةُ اَشَدُّ مِنَ الزِّنَا (مشکوة)

غیبت کول تر زنا هم بد تر دی.

ketabton.com - The Digital Library

## حدیث (۹)

**زِنَا الْعَيْنِ اَلنَّظَرُ (مشکوة)**

**د سترګو زنا ناروا کتل دي.**

## حدیث (۱۰)

**لاَ يَدْخُلُ الْجَنَّةُ مَنْ لاَّيَأْمَنُ جَارُهُ بَوَائِقَهُ (مسلم)**

**هغه سړی به جنت ته داخل نشي چې، ګاونډي يې له ضرر څخه محفوظ نه وي.**

ketabton.com - The Digital Library

## حدیث (۱۱)

عَذَابُ الْقَبْرِ حَقٌّ (بخاری)

د قبر عذاب حق دی.

## حدیث (۱۲)

كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ (ابوداود)

هر څه چې نشه راولي، حرام دي.

ketabton.com - The Digital Library

## حدیث (۱۳)

مِفْتَاحُ الْجَنَّةِ اَلصَّلاَةِ وَ مِفْتَاحُ الصَّلاَةِ اَلْوُضُوْءُ (ترمذی)

د جنت کیلي لمونځ دی او د لمانځه کیلي اودس دی.

## حدیث (۱۴)

اَلسِّوَاكُ مُطَهِّرَةٌ لِلْفَمِّ وَ مَرْضَاةٌ لِّلرَّبِّ (نسائي)

مسواک وهل د خولې د پاکۍ سبب دی او د الله جل جلاله د رضاء سبب گرځي.

ketabton.com - The Digital Library

## حدیث (۱۵)

أَفْضَلُ الأَعْمَالِ الْحُبُّ فِي اللَّهِ وَالْبُغْضُ فِي اللَّه (ابوداود)

ښه د عملو څخه دا دی چې، دوستي هم د الله تعالی لپاره وي او دښمني هم د الله تعالی لپاره وي.

## حدیث (۱٦)

أَحَبُّ الْبِلاَدِ إِلَى اللَّهِ مَسَاجِدُهَا وَأَبْغَضُ الْبِلاَدِ إِلَى اللَّهِ أَسْوَاقُهَا (مسلم)

ډیر خوښ د ښارو څخه د الله جل جلاله په نزد مسجدونه دي او ناخوښه د ښارو څخه د الله جل جلاله په نزد بازارونه دي.

ketabton.com - The Digital Library

## حدیث (۱۷)

مَنْ بَنَى مَسْجِدًا لِلَّهِ تَعَالَى بَنَى اللَّهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ (بخاری و مسلم)

هر چا چې د الله جل جلاله د رضاء لپاره مسجد جوړ کړ، الله جل جلاله به دده لپاره په جنت کې ځای جوړ کړي.

## حدیث (۱۸)

إِذَا جَاءَ أَحَدُكُمْ إِلَى الْجُمُعَةِ فَلْيَغْتَسِلْ (بخاری و مسلم)

څه وخت چې يو ستاسې څخه جمعه پیدا کړي، باید غسل وکړي (یعني د جمعې په ورځ غسل وکړي.)

ketabton.com - The Digital Library

## حديث (۱۹)

اَلصَّلَوَاتُ الْخَمْسِ يمْحُو اللَّهُ بِهِنَّ الْخَطَايَا (مسلم)

د پنځو لمونځو په کولو سره الله جل جلاله ګناهونه بخښي.

## حديث (۲۰)

صَلُّوْا الصَّلاَةَ لِوَقْتِهَا (مسلم)

لمونځ پر خپل ټاکلي وخت باندې آدا کړئ.

ketabton.com - The Digital Library

## حدیث (۲۱)

**إِذَا سَجَدْتَّ فَضَعْ كَفَّيْكَ وَارْفَعْ مِرْفَقَيْكَ (مسلم)**

**څه وخت چې تاسې سجده کوی، خپل ورغوی (لاسونه) پر ځمکه کښیږدئ او خپل بازوګان له ځمکې څخه پور ته کړئ.**

## حدیث (۲۲)

**الَّذِى تَفُوتُهُ صَلاَةُ الْعَصْرِ كَأَنَّمَا وُتِرَ أَهْلَهُ وَمَالَهُ (بخاری و مسلم)**

**له هر چا څخه چې د مازیګر لمونځ قضا شو؛ نو لکه مال او اولاد چې یې برباد شو.**

ketabton.com - The Digital Library

## حديث (۲۳)

مَا أَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ مِنَ الإِزَارِ فَفِي النَّارِ (بخاری و مسلم)

هر چا لنګ يا پايڅې چې تر بښنګرو ښکته وي، هغه حصه د بدن به يې دوزخ ته ولاړه شي.

## حديث (۲۴)

لاَ تَدْخُلُ الْمَلاَئِكَةُ بَيْتًا فِيهِ كَلْبٌ وَلاَ صُورَةٌ (بخاری و مسلم)

ملائکې هغه کور او خونې ته نه داخليږي چې، په هغه کې سپی يا عکسونه وي.

ketabton.com - The Digital Library

## حدیث (۲۵)

إِيَّاكُمْ وَالْحَسَدَ فَإِنَّ الْحَسَدَ يَأْكُلُ الْحَسَنَاتِ كَامَا تَأْكُلُ النَّارُ الْحَطَبَ (ابوداود)

د حسد او بغض څخه تیښته وکړئ ځکه چې، حسد او بغض نیکي داسي خوري لکه اور چې بوټي خوري.

## حدیث (۲٦)

لاَ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ خِبٌّ وَلاَ بَخِيْلٌ وَلاَ مَنَّانٌ (ترمذی)

فریب کاره، بخیل، او هغه څوک چې د خپل احسان پر بل چا اچوي، جنت ته به داخل نه شي.

ketabton.com - The Digital Library

## حديث (۲۷)

سِبَابُ الْمُسْلِمِ فُسُوْقٌ وَقِتَالُهُ كُفْرٌ (بخاری و مسلم)

مسلمان لره نالائقه وینا لویه ګناه او په ناحقه وژل د کفر سره بـــــــرابر ده.

## حديث (۲۸)

الْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ (بخاری)

کامل مسلمان هغه څوک دی چې، هغه له ژبې او لاس څخه مسلمانان په امن کې وي.

ketabton.com - The Digital Library

## حديث (۲۹)

لاَ إِيمَانَ لِمَنْ لاَ أَمَانَةَ لَهُ وَلاَ دِيْنَ لِمَنْ لاَ عَهْدَ لَهُ (بيهقی)

ایمان نشته هغه چا لره چې، امانتداره نه وي او کامل دينداره نه وي،هغه ځوک چې پر خپله وعده وفا نه کوي. (له ایمان څخه مراد کامل ایمان دی.)

## حديث (۳۰)

آيَةُ الْمُنَافِقِ ثَلاَثٌ إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ، وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ، وَإِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ. (بخاری و مسلم)

د منافق درې علامې دي: څه وخت چې خبرې کوي درواغ وايي او څه وخت چې وعده وکړي، وفا پرې نه کوي (وعده خلافي کوي) او په امانت کې خيانت کوي.

ketabton.com - The Digital Library

## حدیث (۳۱)

خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ (بخاری و مسلم)

تاسې ښه بنه سړی هغه څوک دی چې، قرآن زده کړي او نورو ته يې هم ور زده کړي.

## حدیث (۳۲)

ارْحَمُوا أَهْلَ الأَرْضِ يَرْحَمْكُمْ مَنْ فِي السَّمَاءِ (ترمذی ابوداود)

تاسې رحم کوئ پر هغه چا چې په ځمکه کې دی، پر تاسې به رحم وکړي هغه الله"ج "چې، په اسمان کې دی.

ketabton.com - The Digital Library

## حديث (۳۳)

لَقِّنُوا مَوْتَاكُمْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ (مسلم)

خپلو مړو لره (هغه کسانو ته چې د ځنکدن شیبې یې وي) تلقین ورکوئ په کلمه سره د لااله الا الله محمد رسول الله.

## حديث (۳۴)

لاَ تَسُبُّوا الأَمْوَاتَ فَإِنَّهُمْ قَدْ أَفْضَوْا إِلَى مَا قَدَّمُوا (بخارى)

خپلو مړو ته ښکنځل بد ویل مه کوئ ځکه چې، دوی رسیدلي دي هغه ته چې مخکې یې استولي وه (د خپل عمل جزا ته رسیدلي دي.)

ketabton.com - The Digital Library

## حدیث (۳۵)

لاَ يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَلَدِهِ وَوَالِدِهِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ (بخاری و مسلم)

تاسې څخه هیڅ سړی کامل مؤمن نشي کیدای، تر څو چې ده لره زما محبت تر خپل مور، پلار، اولاد او تر ټولو خلکو ډیر نشي.

## حدیث (۳٦)

اَلْمَرْءُ مَعَ مَنْ أَحَبَّ (بخاری)

انسان به د قیامت په ورځ د هغه چا سره ملګری وي چې، په دنیا کې یې د هغه سره محبت درلود.

ketabton.com - The Digital Library

## حديث (۳۷)

كُنْ فِي الدُّنْيَا كَأَنَّكَ غَرِيبٌ، أَوْ عَابِرُ سَبِيلٍ (بخاری)

په دنيا کې د مسافر او د لارې تيريدونکي په څېر گذاره کوه.

## حديث (۳۸)

اَلجَنّةُ تَحْتَ اقْدَامِ الْاُمَّهاَتِ (مسلم)

جنت د میندو تر قدمو لاندې دی.

ketabton.com - The Digital Library

## حديث (۳۹)

يُسَلِّمُ الصَّغِيرُ عَلَى الْكَبِيرِ وَالْمَارُّ عَلَى الْقَاعِدِ وَالْقَلِيلُ عَلَى الْكَثِيرِ (بخارى)

سلام دې وايي کشر او مشر ته او تلونکی (روان) او ناست ته او لږ کسان او ډيرو ته.

## حديث (۴۰)

إِنَّ اللَّهَ لاَ يَنْظُرُ إِلَى أَجْسَادِكُمْ وَلاَ إِلَى صُوَرِكُمْ وَلَكِنْ يَنْظُرُ إِلَى قُلُوبِكُمْ (مسلم)

الله تبارک و تعالی ستاسې صورتونو او مالونو ته نه ګوري بلکې، الله تعالی ستاسې زړونو او عملونو ته ګوري.

ketabton.com - The Digital Library

# درانو لوستونکو ستاسو د لوستلو څخه مو نړی مننه.

**د نورو په زړه پورې معلوماتو په تمه ووسېږ.**

**په درنښت**

**محمد یونس زیرک**

**Thank you for reading**

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*